**MEDIA COMMITTEE**
**د رسنيو کمېټه**

# په ټاکنيزو سياليو کې د رسنيو پر سرغړونه د څارنې او ورته رسېدنې تګلاره

۱۳۹۷

## اساس او بنسټ

### لومړۍ ماده:

دغه طرز العمل د ټاکنو د قانون د (۲۷) مادې په ( ۸ مه) درج شوې فقره او د ټاکنو قانون د ۲۷، ۷۶،۷۷، ۷۸، او ۹۶ مادو په نظر کې نيولو سره د رسنيو د کمېټې له احکامو او لايحو سره سم جوړ شوی چې د ټاکنو د خپلواک کميسيون (لدې وروسته کميسيون) لخوا هم تاييد شوی دی؛ له دې وروسته د پلې کېدو وړ دی.

## موخه

### دويمه ماده:

ددې طرز العمل له مخې به لاندې موخې عملي کېږي:

(۱) د عدالت او انصاف په نظر کې نيولواو په پوره بې طرفي سره د نوماندانو، سياسي حزبونو او د سياسي حزبونو د ايتلافونو د ټاکنيزو مبارزو خپرول؛

(۲) د ټاکنيزو منډو ترړو پر مهال د ټوليزو رسنيو، نوماندانو، سياسي حزبونو او د سياسي حزبونو د ايتلافونو ټاکنيزو سرغړونو ته رسېدنه؛

(۳) د کمېټې له لوري د ټولو رسېدلو شکايتونو دسته‌بندي کول او ورته رسېدل او يا هم کمېسيون، د شکايتونو کمېسيون او يا نورو اړوندو مسوولو ځانګو ته د هغو سپارل او وړاندې کول؛

(۴) د څارنې او ارزولو لپاره د معيارونو تعينول؛

(۵) د رسنيو د کمېټې د پرېکړو او ځرنګوالي څارنه؛ او

(۶) د رسنيو پر وړاندې د مطبوعاتي کنفرانس له لارې او په ټوليزو رسنيو کې د موضوعاتو د ځرنګوالي، لاسته راوړنو او د رسنيو د کمېټې د کړنو په اړه بشپړ معلومات ورکول.

## څارنه

### درېيمه ماده:

(۱) د رسنيو کمېټه په ټوليزو شبکو کې د نوماندانو، سياسي حزبونو او د سياسي حزبونو د ايتلافونو ټاکنيزې خبرتياوې، اعلانونه او خپرېدونکي غونډې هغه چې (په عدالت او انصاف ولاړې او بې پرې) وي په دقت، توازن او بې‌طرفی‌سره څاري؛

(۲) د رسنيو کمېټه کولی شي د ټولو رسنيو خپرونې په مستقيم او يا هم د کوم بل معتبر خدماتي بنسټ پر مټ وڅاري؛

(۳) د معتبرو خدماتي بنسټونو پر مټ د رسنیو څارل د یو لړ ځانګړو شرایطو په وضع کولو او د کمیسیون له تایید وروسته صورت نیسي؛

(۴) د عامه پوهاوي او اطلاعاتو ریاست او د کمیسیون د ویاند مرستیالان د رسنیو له کمېټې سره په هر اړخیزه توګه همکاري کوي؛

(۵) د رسنیو کمېټې غړي په رسمي او غیر رسمي وخت کې په ټاکنیزه برخه کې د رسنیو سرغړونې له مستندولو وروسته تعقیبولی او پر وړاندې ګام پورته کولی شي؛

(۶) د رسنیو کمېټه کولی شي په ټولیزو رسنیو کې پر عدالت او انصاف د ولاړو ټاکنیزو اعلانونو د خپرولو څارنه په مرکز او ولایتونو کې معتبرو خدماتي بنسټونو ته وسپاري؛

(۷) معتبرو خدماتي بنسټونو ته د څارنې مسوولیت د رسنیو د کمېټې مستقیم نظارت او مسوولیت نه شي کمولی؛ و

(۸) خدماتي بنسټونه (چې د قانون په چوکاټ ور سره قرارداد کېږي) مکلف دي، چې ددې طرزالعمل له وضع شویو شرایطو او معیارونو سره سم د څارنې ورځنی راپور ددې لپاره د رسنیو کمېټې ته وسپاري تر څو یې پر وړاندې پر وخت ګام واخیستل شي او پرېکړه وکړي.

**<u>د څارنې معیارونه</u>**

**<u>څلورمه ماده:</u>**

(۱) د رسنیو کمېټه د لاندې معیارونو په نظر کې نیولو سره رسنی څارلی شي:

(۱) د دقت او سرعت اصل؛

(۲) د توازن اصل؛

(۳) بې‌پرې‌توب (بې‌طرفي) اصل؛

(۴) انساني کرامت ته د احترام اصل؛ و

(۵) د کمېسیون، شکایتونو کمېسیون او رسنیو کمېټې د قوانینونو، لوایحو او طرز العمل په نظر کې نیولو اصل.

(۲) د شکایت په صورت کې د پورتینو معیارونو نقض ته د رسنیو د کمېټې له ارزونې وروسته د کمېسیون او د شکایتونو کمېسیون لخوا ارزول کېږي او رسېدنه ورته کېږي.

**<u>د شکایتونو ثبت ول</u>**

**<u>پنځمه ماده:</u>**

(۱) د افغانستان اتباع، سیاسي حزبونه، د سیاسي احزابو ایتلافونه، رسنیز اورګانونه، مدني ټولنې او نوماندان کولی شي د ټاکنیزو مبارزاتو پر مهال د رسنیو د سرغړونو په صورت کې په یوه کاري شپه او ورځ (۲۴) ساعتونو کې د قانع کوونکو اسنادو په درلودلو سره د رسنیو په کمېټه، کمیسیون او د ټاکنو په ولایتي کمېسیونونو کې خپل شکایت ثبت کړي.

(۲) کمېسیون او د شکایتونو کمېسیون د ټاکنیزو رسنیو د سرغړونو موندلو په صورت کې موضوع د رسنیو کمېسdون ته راجع کوي.

(۳) د رسنیو کمېټه به په (۲۴) ساعتونو کې هغه چاته چې سر غړونه یې کړې ده او یا یې هم په اړه شکایت شوی، د موضوع په اړه معلومات ورکوي.

(۴) هغه کس چې په اړه یې شکایت شوی دی، باید په (۲۴) ساعتونو کې د ځان د دفاع او سپیناوي په اړه مدارک او اسناد د رسنیو کمېټې ته وړاندې کړي.

(۵) در سنیو کمېټه به د (۴۸) ساعتونو په لړ کې موضوع څېړي او پایلې به یې له هغه کس سره چې شکایت یې کړی او هغه کس ته چې په اړه یې شکایت شوی دی (د قضیې دواړو خواو ته) وړاندې کوي.

**<u>د کمیټی جلسی</u>**

**<u>شپږمه ماده:</u>**

(۱) د رسنیو د کمېټې جلسې په اونۍ کې درې ورځې شنبه، دوشنبه، چهار شنبه او فوق العاده غونډه د یوه غړي په غوښتنه او د یوه بل غړي په تایید، د کمیټې د رییس په غوښتنه او یا هم د کمېسیون په هدایت دایرېږي.

(۲) د رسنیو د کمېټې نصاب د درېیو غړو په حضور سره تکمیلېږي او پرېکړه د رایو په اکثریت (دوې رایې) باندې کېږي.

(۳) د رسنیو د کمېټې پرېکړې ثبتېږي او د کمېټې د غړو لخوا لاسلیک کېږي.

**<u>د رسنیو ټاکنیزې تخطۍ او سرغړونې او د رسنیو د کمېټې پرېکړې</u>**

**<u>اوومه ماده:</u>**

(۱) د رسنیو کمېټه به له هر ډول تبعیض پرته، په بې پرېتوب او انصاف سره د ټاکنیزو رسنیو سرغړونې څېړي او په اړه به یې پرېکړه کوي.

(۲) د رسنیو کمېټه کولی شي د لاندې ټاکنیزو سرغړونو په صورت کې د رسنیو او نوماندانو پر وړاندې پرېکړه وکړي:

۱- د ټاکنو په اړه د ناکره او داسې معلوماتو خپرول چې د یوه شخص او یا ډلې په اړه د خلکو احساسات را وپاروي او یاد کس یا ډله بدنامه کړي؛

۲- د داسې مطالبو خپرول چې د نوماندانو او یا ټولو کسانو شخصي حریم پکې نقض شوی وي او یا ورته سپکاوی شوی وي؛

۳- د داسې راپورونو خپرول چې په هغه کې د ټاکنو په اړه ناسم، یو اړخیز او نامتوازن معلومات را ټول شوي وي؛

۴- د ټاکنو په اړه د نامتوازنو او یو اړخیزو سیاسي، ټولنیزو او فرهنګي خپرونو جوړول؛

۵- د ټاکنو په اړه د هر ډول غلطو او ناسمو ګنګوسو او څرګندونو چاپول او خپرول؛

۶- د کمیسیون فیصلې او پرېکړې نه عملي کول؛

۷- د ټاکنو په اړه د دروغجنو او تحریف شویو را پوروونو خپرول؛

۸- د رسمي وخت له پیل څخه وړاندې یا هم د سکومت دورې پر مهال د نوماندانو د کمپاینونو او یا نورو اعلاناتو خپرول؛

۹- د سکوت د دورې پر مهال د نوماندانو د تګلارو، موخو، پالیسیو او یا هر هغه څه خپرول چې د نوماند په ګټه او زیان وي؛

۱۰- له ټولو هغه تلوزیوني، راډیویي او په ټولنیزو شبکو باندې له خپرېدونکو خپرونو څخه غیر قانوني ګټه اخیستنه چې په هغه کې د خپروني چلول خپله د رسنۍ د څښتن او یا کار کوونکي پر غاړه وي؛

۱۱- له دولتي رسنیو څخه د هغه نوماندانو په ګټه او زیان د خپرونو چلول او وړاندې کول چې د ولسي جرګې په اداري پلاوي کې شامل وي؛

۱۲- د ټاکنیزو کمپاینونو له پیل څخه مخکې د ولسي جرګې او لسوالیو شوراګانو د نوماندانو لخوا د هر ډول بیلبورډ او بنر؛ هغه که تر هر ډول شعار یا څرګندوني لاندې وي؛

۱۳- د رسنیو کمېټه کولی شي د ټولو هغه سرغړونو پروړاندې چې ددې کمېټې له پالیسی، موخو او طرزالعملونو, او د ټاکنو له قانون سره په ټکر کې وي وڅېړي او د اصلاح انظباطي تدابیرو په اړه یې حکم صادر کړي؛

۱۴- له ټاکلي وخت مخکې او وروسته په ټولنیزو شبکو کې د نوماندانو او یا د هغوی ډیلویانو لخوا د هغه توکو او مسایلو خپرول چې په یو ډول یې نوماند ته ګمپاین کېږي؛ او

۱۵- له ټاکلي وخت مخکې او وروسته په ټولنیزورسنیو کې د نوماندانو لخوا د هر ډول داسې پیغام خپرول چې په یو ډول د نوماند د نفوذ او رایو ساحه پراخولی شي.

**<u>انظباطي تدابیر</u>**

**<u>نهمه ماده:</u>**

د رسنیو کمېټه کولی شي، د ټاکنو قانون او د رسنیو د کمېټې د طرزالعمل اړوند د ټاکنیزو سرغړونو د شدت او خفت درجې ته په کتو سره لاندې تدایر ونیسي:

(۱) د اخطاریې صادرول او د سرغړونې د اصلاح لپاره ورته لارښوونه؛

(۲) له وخت او سرغړونې سره سم له پنځو زرو تر یولک افغانیو پورې د جریمې وضع او تعینول؛

(۳) د شکایتونو کمیسیون له تایید وروسته د عدلي تعقیب لپاره اړوند مراجعو ته د سر غړونکي ور پېژندل:

(۴) د کره اسنادو په صورت کې کمیسیون ته د سرغړونکي د اعتبار لیک د ابطال وړاندیز:

(۵) د ټولنیز شبکو له لارې د فیصلې د نشر او خپرېدو لارښوونه:

(۶) د رسنیو کمېټه له شکایت پرته د خپل مسوولیت له مخې د رسنیو له لارې ټاکنیزې سرغړونې په نښه کولی او په اړه یې قضاوت کولی شي.

**<u>د کمیسیون پر وړاند د رسنیو د کمېټې مسوولیت</u>**

**<u>لسمه ماده:</u>**

(۱) د رسنیو کمېټه به خپلې ور سپارل شوې دندې د ټاکنو د قانون،د ټاکنو د لوایحو او طرز العمل او د رسنیوکمېټې د طرز العمل چې د ( ټاکنو کمیسیون) لخوا تایید شوی دی مخ ته وړي.

(۲) د رسنیو کمېټه د خپلو کړنو پر وړاندې مسووله ده او کمیسیون ته به راپور ورکوي.

(۳) د رسینو د کمېټې د غړو لخوا د خپلو سرو او له قانون څخه د پورته اجراتو کولو د اثبات په صورت کمیسیون پرېکړه کوي.

## د رسنیو د کمېټې را پور ورکول

**يولسمه ماده:**

(۱) د رسنيو کمېټه به له حالاتو سره سم د خپلو فعاليتونو په اړه هره اونۍ او د ځانګړو قضيو او يا هم د کميسيون د هدايت په صورت کې د کميسيون ناستې ته خپل راپور وړاندې کوي.

(۲) د رسنيو کمېټه کولی شي د هغه موضوعاتو په اړه چې خبري کنفرانس ته اړتيا لري د منشي له دفتر او يا هم د کميسيون له وياند سره په هماهنګۍ مطبوعاتي کنفرانس ورکړي.

(۳) د رسنيو د کمېټې غړي د اړتيا پر وخت، د موضوعاتو د لا روښانوالي او له خپلو پرېکړو څخه د دفاع په موخه په تلويزيوني او راډيويي خپرونو کې ګډون کولی شي.

## انفاذ

**دولسمه ماده:**

دغه طرزالعمل د کميسيون له تاييد وروسته نافذ او د کميسيون په وېب پاڼه کې خپرېږي.